# د امیر حمزه شینواری غزل د پښتني کلتور هنداره

**لیکوال:** پوهیالی سراج احمد حبیبي

**لنډیز**

هسې خو په ټوله کې پښتو شاعرۍ له امیر کروړه نیولې بیا تر دې اوسنیو شېبو د خپل کلتور ترجماني کړې ده او په یوه نه یو ډول زموږ ټولو شاعرانو دغه مزی کوږ او ووږ تر دې لحظې پورې را رسولی دی. خو هغه څه چې تر نورو واړو شاعرانو یې امیر حمزه شینواري ته د امتیاز پګړۍ ور پر سر کړې ده، هغه د جولیز او مانیز دواړو اړخونو له پلوه د پښتني کلتور د ترجمانې شاعرۍ هستول دي. یعنې هغه لومړی د پښتو شاعرۍ په جولیز اړخ کې پښتني اصطلاحات او نومونه را ګډ کړل او ورپسې یې په مانیز اړخ کې د پښتنو هر ډول خوښونې، کرښې، انګېرنې او ننګېرنې را ونغښتې؛ پر دې سره که د هغه شاعرۍ پر یوه بله ژبه هم وژباړل شي، په یو نه یو ډول به پښتني رنګونه په کې څرکونه ووهي.

**بنسټیز ویونه:** امیر حمزه شینواری، کلتور، غزل، دودونه او خویونه.

**سریزه**

د ارواښاد امیر حمزه شینواري د شعر او هنري ژوند په باب تر دې دمه ډېرې رسالې، مقالې او حتی کتابونه لیکل شوي دي، خو د ده د هنري ژوندانه هغه برخه چې تر ډېره پرې تمرکز نه دی شوی، هغه په ټوله کې د ده په شعرونو کې او په ځانګړې توګه غزل کې یې د پراخو پښتني اصطلاتو او مفاهیمو رانغښتل دي. پر همدې اساس وپتېیل شوه چې په دې لنډه مقاله کې د نوموړي د شاعرۍ دغه خوا هم را وسپړل شي، چې په دې توګه هم لوستونکی د حمزه بابا له هنري ځواک او پښتني مینې څخه خبر شي او هم یې د غزل پر مثال د پښتني کلتور ځینې تیاره کوټونه ووینې.

د پښتنو د کلتور او ثقافت په برخه کې د ارواښاد امیر حمزه شینواري له شعري کلیاتو څخه پرته هم د پښتو ادبیاتو لمن له راز ـ راز مرغلرو څخه ډکه ده، که څوک و غواړي چې د پښتنو له دې کلتور او د ژوندانه له کړو وړو څخه ځان خبر کړي، نو غوره لار یې د دوی د ادبیاتو مطالعه کول دي. که څه هم د دوی د ادبیاتو ډېری برخه له بده مرغه د زمانې خړو سېلابونه له ځانه سره وړې ده او د خورا لرغونې دورې ټول اثار یې دم ګړی نه تر سترګو کېږي، خو د لرغونې، منځنۍ او په تېره د اوسنۍ دوره په ځولۍ کې خو یې په دې اړوند ډېرې مرغلرې پرتې دي او پلټونکو ته ډېر څه په ګوتو ورکولای شي. که څه هم د یوه قوم او سیمې کلتور پرته له ادبیاتو نه د هنر په نورو برخو کې هم مطالعه کېدای شي، لکه په نڅا، نقاشي، مناتوري، رسامي او داسې نورو کې، خو په پښتنو کې بیا د ژوند دا رنګونه ډېر پیکه دي او په هغه پېمانه د دوی د کلتور او کړو وړو ترجماني نه شي کولای.

## امیر حمزه شینواری

امیر حمزه شینواری د ملک بازمیر خان زوی او د خیبر د ښکلې او تاریخې درې په لواړګي کې یې د لومړي ځل لپاره په (۱۹۰۷) زېږدیز کال د هغه په کور کې پر دې فاني نړۍ سترګې لګېدلې دي. که څه هم د یوه ظالم استاد د ګوتڅنډنې او وهنې له امله هغه خپلې زده کړې بشپړې کړې نه دي، خو په خپل خدای ورکړي استعداد او ازلي علم سره یې د پښتو ادب د ناوې پر اوربل کې لاندې پوهنیز ګلونه ټومبلي دي:

د زړه اواز، سفرنامه، نوی پښتون، نوې څپې، غزونې، ژوند، ژور فکر، د خوشحال خټک یو شعر، د اقبال د ارمغان حجاز ترجمه، د کارل مارکس اصول دعقل په نظر کې ، سوانح، تجلیات، تذکره الستاریه، د لیلې او مجنون ډرامه او ګڼ نور. ( ۵/ ۲۲۶، ۲۲۷ )

که څه هم حمزه بابا د ادب په ګڼو اړخونو کې خپل قلمي ځواک ازمویلی دی، خو تر هر څه د هغه پښتون غزل ورسره وفاه کړې او هغه یې د شهرت په اسمان کې ځلولی دی. په همدې پار ما له ځانه سره و پتېیله چې د هغه د پښتون غزل د پښتني کلتور ډېوه ستاسو ښاغلو لوستونکو په ذهنونو کې روښانه کړم.

## کلتور

کلتور پوهنه له آره د یوناني پوهانو له مغزونو را وتلې پوهه ده، که څه هم د دې کلمې یا اصطلاح ریښه د لاتیني ژبې د (cultura) کلمې ته رسېږي، چې د (کرنې) د ځمکې (چمتو کولو)، (څارنې، مراقبت او پالنې) مانا لري، دا په دې مانا چې په لرغونو زمانو کې د کلتور کلمه د کرنې لپاره د شاړې ځمکې د چمتور کولو، آبادولو او جوړولو مانا لرله. مګر دې کلمې بیا د لرغوني روم په زمانه کې نورې معناوې

درلودې: د ادب او کلتور، او له همدې کبله دي چې د کلتور د پیل ویاړ تل یونانیانو پورې تړلی دی. ( ۲ / ۵)

په اوس وخت کې د کلتور تر پوهنیز پوښښ لاندې د یوه اولس ټولې گروهې، پنځونې، دودونه، خویونه، لرلیدونه، اندونه او حتی د ژوندانه ټول کړه وړه راځي. نو اوس چې موضوع دومره آرته او پراخه ده، نو د یوه قوم په حیث د پښتنو د ټولو کلتوري ارزښتونو بیانول په یوه مقاله کې ناشونې خبره بریښي. نو غوره خبره دا ده چې یوازې یې د کلتور هغه برخې وڅېړو، چې په یوه نه یوه توگه د ارواښاد امیر حمزه شینواري په غزلونو کې نغوته ورته شوې وي. په دې سره به مو هم د موضوع حق ادا کړی وي او هم به مو د لوستونکو ارزښتمن وخت بې ځایه نه وي لگولی، خو دا خبره بیا هم د یادونې وړ بولم، چې د پښتنو ټول کلتور یوازې دا او دومره لږ نه دی، چې دا موږ یې په دې مقاله کې د راسپړلو هڅه کوو، بلکې په دې برخه کې ډېرو زیاتو کتابونو، رسالو او مقالو لیکلو ته اړتیا ده، تر څو یې په ترڅ کې دا موضوع ښه واضح او څرگنده شي.

پښتانه د یوه قوم په توگه د ځانگړو کلتوري ارزښتونو خاوندان دي، چې د نورو قومونو له کلتوري ارزښتونو څخه د هغوی د بېلتون په قرمزي کرښه بېلول څه ستونزمنه خبره نه ده، ځکه ډېری پښتانه لا تر اوسه پورې لوستي نه دي، هغه اولسونه چې په کې نالوستي او ځای پر ځای پاتې کسان ډېر وي، تر نورو اولسونو خپل کلتور او تاریخي عننې ښې ساتلی شي. ځکه د نورو د افکارو او خویونو تر اغېز لاندې نه وي راغلي. زده کړه او پوهه چې څومره د بشر د ژوندانه په رفاه او پر ځان بسیاینه کې اغېزمن نقش لري، هماغومره ډېر یې د دوی د کلتوري ارزښتونو په بدلولو او حتی په له منځه وړلو کې اغېز جوت دی. هغه کسان چې لوستي او پوه وي د نالوستو هغو په پرتله د نورو د کلتورونو، هغه ارزښتونه چې د دوی په مزاج او طبیعت برابر وي، ژر راخپلوي. د دې په بدل کې هماغومره ژر بیا خپل هغه کلتوري ارزښتونه چې د دوی په مزاج او طبیعت برابر نه دي هم له لاسه ورکوي. د بېلگې په توگه څادر او پگړۍ چې د پښتنو د آر کلتور برخې او عناصر دي، نن ورځ د هغوی د لوستو کسانو لباس نه تشکیلوي. او یوازې یې د کلتور دا برخې تر کلیو، باندو او نالوستو کسانو پورې محدودې دي.

د پښتنو کلتور ته چې راشو، لکه څرنگه چې د کلتور په پېژند کې مو پورته د هغه د یوې برخې په توگه د خویونو یادونه وکړه، د پښتني ټبر له خویونو څخه پت، ښېگڼه، توره، وفاه، ننگ او غیرت دي، کوم چې د «پښتون»د کلمې د هر توري تفسیر او تعبیر هم گڼل کېږي.

د پښتنو د دې ټولو خویونو یادونه د ارواښاد امیرحمزه شینواری په غزل کې شوې ده چې موږ به یې په لاندې توگه د هغه د شعري بېلگو سره یو ځای ستاسو ښاغلو لوستونکو مخې ته کېږدو:

## پښتني خويونه

### پت

په پښتو کې پت د عزت، ناموس او ابرو معنا ورکوي. په پښتونواله کې تر ټولو دروند خوی پت ساتل او پالل دي. (٦/ ۸۹)

د پت په اړه پوهاند صديق الله رښتين په خپل ارزښتمن اثر «پښتني لارښود» کې ليکي چې:

«پت او عزت يا پت پالل او عزت ساتل د پښتنو يو سپېڅلی خوی او عادت دی، پښتون په هر حال کې، غريب وي که شتمن د خپل پت او عزت ډېر خيال ساتي؛ دغه وجه ده چې ذلت او سپکاوي ته غاړه نه ږدي، له هر څه نه تېرېږي، خو له عزت او پت څخه نشي ـ تېرېدای. ملي غرور او همت له لاسه نه ورکوي. خوشامندي، ټيټال، غوړه مالي، وړسترګي او سپيتانه ډېره بده ګڼي. په ياری او دوستی کې هم د پت ساتلو او پاللو پوره خيال ساتي. په خپل منځي ژوند کې د مساوات او برابری ساتنه د پت او عزت يو ښکاره نښه بولي.» (۳۱/۴)

دغه وجه ده چې اروابناد اميرحمزه شينواری د پښتون له پاره آن د سپي خوی هم له بې پتی نه ښه ګڼي او وايي:

ښه به وي له دې چې خوی د سپي وکا
نه ښايي پښتون چې بې پتـــــي وکا
(۸/ ۸۹)

پر پښتون باندې په هر ډول حالت کې د خپل پت ساتل او پالل د پښتونوالې يو درونـد اړ او شرط دی، پښتون به په هيڅ وخت کې بې پتی ته غاړه نه ږدي، آن د خپل خواږه يار په بېلتانه او يا تنګسه کې به هم د پښتونوالې دا درونـد پېټی د خپل نفس پـر اوږو وړي او د حمـزه بابا غونـدې بـه يـې د دې نارې ذکر تل پر خوله جاري وي:

پښتونواله به زما بې پته نه شــــــي
که بېلتون وي زورور زه يې تربور يم
(۸/ ۱۷۵)

آن په تنګسه او ناچاری کې يې هم که له چا سره هر ډول ژمنه او لوظ کړی وي، بايد چې پـورې يـې کړي، که نه وي د پښتونوالې د قانون له مخې يې په همدې ډول حالت کې هم بې لوظي د بې پتی نښه ګڼل کېدای شي:

په پښتانه کې بې لوظي د بې پتۍ نښه ده
قاصده داسې ورته وایه که دې بیا ولیدو
(۸/ ۱۹۴)

د پت او عزت د ساتلو او پاللو له پاره په انسان کې ننګ او غیرت په کار دی، که چیرې یو څوک پر دې پسول نه وي پسولل شوی، نو د پت پر ښکلا به یې خامخا د بې پتۍ بدرنګي را څرګندیږي. امیر حمزه شینواري هم دا اړتیا محسوس کړې ده. نو ځکه یې د پښتونوالۍ دا د ننګ او غیرت سکالو په خپلو شعرونو کې ډېره شاربلې ده، چې د ننګ د پېژندنې او تشریح سره یو ځای یې موږ په لاندې ډول بېلګې وړاندې کوو:

**ننګ**

ننګ دویمه ستن ده چې د پښتونوالۍ ماڼۍ ورباندې ولاړه ده، پر خپل پت او عزت باندې ننګ او غیرت کول د پښتني کلتور آر او زړی دی؛ بې ننګه او بې غیرته سړی په پښتنو کې هیڅ ارزښت نه لري.
د پښتنو د ننګ او غیرت ځایونه دا دي: ځمکه او وطن، ښځینې او تور سرې، ژبه او دین، قوم او عزیز، نوکر او ګاونډی، مېلمه او اشنا، مال او څاروی، مطلب دا دی چې که څوک د پښتون پر دغو شیانو تېری او زیاتی وکړي، یا ورته سپک وګوري، نو دی به هرو مرو ورباندې ننګ او غیرت کوي او د زورګیر او زیاتي کوونکي لاس به ورنه لنډوي، په پښتني ژوند کې دین، وطن، قام، ژبه او ښځه دا ټول په ناموس کې حسابیږي، نو ځکه پر دغو ټولو شیانو باندې ننګ کول د ننګیالیتوب اصلي شرطونه دي. (٦/ ۹۲، ۹۳)

که چېرې په پښتني ټولنه کې دغه شرطونه څوک پوره کړي، نو هغه بیا په رښتیا سره د دستار د تړلو او پرسرکولو وړ دی؛ لکه چې حمزه بابا فرمایي:

پښتونه زده کړه ننګ، هـــــله لاله بړده په دستار
و داغ د بې ننګۍ په زړه حسرت د خوشحال خان
( ۸/ ۱۸٦)

***

او یا:

تیټ مې نظر ستا چې نظر تیټ نه کړ
پوه په هوډ او ننګ د پښتانه دې کړم
( ۸/ ۱۵۰)

دا سمه ده چې د پښتانه هوډ او ننګ انکسار نه مني؛ پښتانه هر څه زغملی شي، خو د خپل ننګ او غیرت په لمن تور داغ نه شي زغملی. څوک چې بیا د دوی د ننګ او غیرت پر لمن د تور داغ لګولو هڅه کوي، نو د خپلو دې ګاڼو هوډونو د وریت کېدو نندارې به د دوی د سقر زړونو په لمبو کې وکړي.

زړه مې لمبه واخیسته رقیب ته چې موسکی شولې
تندر چېرته پرېوتو او بل یې چېرته اور کـــــړلو
(۱۰/ ۱۷۴)

***

او یا:

موسکه وه رقیب سره په تریو تندي مې پوهه شوه
وې چې په تا باندې مې پېرزو خبرې نورې دي
(۱۰/ ۱۷۸)

## لوړ همت او زړورتیا

لوړ همت او زړورتیا هم لکه د نورو ډېرو خویونو په څېر افغاني خویونه او عادات دي، چې افغانان پرې ویاړي، ځکه چې د دې دواړو خویونو او عاداتو څښتن هر ځای په ښه درونه نوم ستایل کېږي. که هغه افغان، چې د خپل عزت او شرافت د خوندي ساتلو فکر او هڅه کوي، نو ضروري ده، چې دا دواړه خویونه په ځان کې ولري، تر څو په ټولنه کې ورته د عزت په سترګه وکتل شي او درناوی یې وشي. (۷/ ۱۱۹)

اروابناد امیر حمزه شینواري هم په خپلو شعرونو کې د افغاني او پښتني خویونو دې برخې ته ډېره پاملرنه کړې ده، پر دې اساس یې په دې ډول بیتونو کې یو ډول حماسیت او مېړانه هم سترګکونه وهي. لاندې بیت یې ښکاره لاسوند کېدای شي، چې په کې پښتون همت یې د ماتې د نه زغملو په پار آن اسویلی هم له خولې نه دی ویستلی:

ماتې مې پښتون همت و نه زغمله غلی شو
و ګنـي د خولې نه اسویلی خو راوتلی شو
(۸/ ۲۱۸)

په دې لاندې بل بیت کې خو په څرګنده ښخي په خپل همت باندې ویاړ کوي او ځان آن د اسمان سره تشبیه کوي:

خو نه ځلانده ستوري اوس هم لرم

په لـــــوړ همت لکه اسمان یمه زه

(۹/ ۴)

## سخاوت او ښه ځواني

سخاوت او ښه ځواني هم په افغاني ټولنه کې غوره صفتونه دي، سخي او ښه ځوان تـه پـه درنـه سـترګه کتل کېږي او درناوی یې کېږي.

په پښتونولي کې ښه ځواني ځانګړی ځای لري او سخاوت خو د افغانـانو پـه ختـه کـې اخښـل شـوی صفت دی، ځکه چې کنجوس او ممسک شخص ته پـه ډېـر سـپکه سـترګه کتـل کـېږي. او د ټـولنې واړه وګړي ورته په ډېر کم نظر ګوري. افغانان په ډېر تکلیف او کـړاو سره پیسـې ګټـي، پـه میاشـتو او کلونـو مسافری کوي، خو کله چې خپل وطن ته راشي هغه په تکلیف او کړاو ګټلې پیسې پـه ډېـر سـخاوت او ښه ځوانی سره مصرفوي. ( ۷/ ۱۱۹، ۱۲۰)

د افغانان مېلمه پالنه او د مېلمنو له پاره لویې لویې حجرې جوړول د دوی د سخاوت او ښـې ځـوانی ښکاره بېلګې دي. د حمزه بابا په ډېرو بیتونو کې به د افغانـانو دې سـپېڅلي خـوی او عـادت تـه نغـوتې ووینو، یو څو بېلګې یې په لاندې توګه را اخلو:

ستا په التفات کې ولې برنده خاموشي وه

مـــــا خو اورېدلی د پښتون د سخا غږ و

( ۱۹۸)

او یا:

ساقي زده له صراحي مې د زړه راز کړه

ورته ګـــــوره چې عطا کوي سر خم کا

(۸۸)

## رښتینولي او صداقت

په افغانانو کې رښتیا ویل او په صداقت چلېدل یو منلی صفت دی، چې د غوره خویونو پـه لـړی کـې یوه غوره کړی ده.

افغانان په عام ډول غدر، درواغو او فریب ته په ډېره بده سترګه ګوري، کرکه ترې کوي او ځان تـرې ساتي، دوی د حق ویل او په صداقت چلېدل د ژوند د بریاوو یوازینی سمه او رښتینې لاره بولي. ځکه خو

وايي چې حق د الله نوم دی، که چېرته يې په يوه حق او رښتيني وينا سر پرې کېږي. نو دريغ نه کوي. ( ۷/ ۱۱۷)

ځکه زموږ او ستاسو د موضوع اتل او د پښتو غزل بابا ارواښاد امير حمزه شينواری وايي:

د مېـــړنـــو غوندې خبرې کوم
د پښتنـــــو غوندې خبرې کوم
ساده پښتون يمه خفه چې نه شې
د آيينــــــــو غوندې خبرې کوم
( ۸/ ۱۶۶)

او يا :

دا بـــرکت د پښتنې ژبــــې دی
چـــــې نارينه غوندې خبرې کوم
صفــــــا صفا وي حيرانېږي ولې
زه آييـــنه غوندې خـــبرې کوم
(۸ /۱۶۶)

## وفا او ژمنه

ژبه، ژمنه، وفا او قول په افغاني ټولنه کې نور غوره صفتونه دي؛ ژمنه او وفا کول د افغانيت لـه مخـې د اعتبار او باور ستر عامل دی. په افغاني ټولنه کې بې ژمنې يا بې وعدې شخص ته پـه سـپکه سـترګه کتـل کېږي، هيڅ کله يې په خبره باور نه کېږي. د خلکو له نظره غورځېدلی او بې باوره شخص ګڼل کېږي. ( ۷/ ۱۲۰)

دا نه يوازې چې افغانان بويه چې په دې ښکلي صفت موصوف وي، بلکې بايـد هـر مسـلمان او حتـی هر انسان هم دا ښکلی صفت په ځان کې پيـدا کـړي، تـر څـو چـې د هغـه ضـد يـې د دنيـا او اخـرت د سرټيټی او ذلت لامل ونه ګرځي. حمزه بابا په خپـل پښـتون غـزل کـې پـه ټولـه کـې د مسـلمانانو او پـه ځانګړې توګه د افغانانو دې ښکلي خوی او صفت ته ډېر برخه ځانګړې کـړې ده. او ډېـر ښـکلي ښـکلي بيتونه يې په دې پسول سره پسولل شوي دي. لاندې بيتونه يې ښې بېلګې کېدای شي:

دا ځنګه بې وفا شوې پښتنې پس له وعدې
پېغور هم ټيټې نه کړلې انګرېزې سترګې ستا
(۸/ ۸۴)

ښکته دې شي سترګې پښتنې چې مخامخ شي
ستـــــا د بې لوظۍ څرنګه ښکلی معذرت کا
(۸/ ۸۵)

په پښتانه کې بې لوظي د بې پتۍ نښه ده
قاصده داسې ورته وایه که دې بیا ولیـــدو
(۸/ ۱۹۴)

## سوال او دروېزه

سوال او دروېزه کول هم په پښتنو کې ډېر بد ګڼل کېږي، په همدې خاطر پښتون که هر څو غریب او بې وزله هم شي، تر ډېره بریده یې ضمیر دا اجازه نه ورکوي چې سوال او دروېزه وکړي، زموږ او ستاسو د موضوع اتل او د پښتو غزل بابا هم په لاندې بیت کې هم دا موضوع رانغښتې ده:

هسې خو مې سوال په پښتنه ژبه راتلی نه شي
بویه د خـــــالق نه چې ضمیر د ګدا وغواړم
( ۸/ ۱۴۶)

حمزه بابا خو دومره د سوال او دروېزې نه بد وړي دي، چې حتی په عشق او مینه کې یې هم چې د جانان وصال په سوال او دروېزه شوی، نو ترې تېر شوی دی.

عشقه دروېزه مې لـــــــه پښتو ده مخالفه
پاتې دا وصال بویه زمانه چې په سوال شو
(۸/ ۲۰۶ )

هغه نه یوازې په دې ورځني ژوند کې سوال او دروېزه کرلې ده او د نه څواب یې ورکړی دی، بلکې کله کله آن ازلي حسن ته هم د سترګو ښکته کېدل د سوال او دروېزې په معنا اخلي، چې دا یې نو ښځې د پښتني غرور هغه وروستۍ انتها ښیي.

حسنه ته خودبین یې زه پښتون یمه
مـــــا نه ده ښودلې ګـدا سترګو ته( ۱۰/ ۱۹۱)

**پېغور**

پښتون د خلکو له پېغوره ډېره کرکه کوي او ډېر ترې وېرېږي، په همدې خاطر تر ډېره بریده کوښښ کوي چې کوم ناوړه کار ترې ونه شي، تر څو چې د خلکو له پېغوره په آمان وي. استاد عبیدالله درویش دُرانی په خپل ارزښتمن اثر « دپښتني ژوند کړه وړه» کې وایي:

«د پښتانه د پاره یو بل لوی قوت هم شته، چې دی د یوه کار کولو یا نه کولو ته هڅوي، او هغه قوت دی ـ د خلکو پېغور ـ دی له خدایه وېرېږي، خو دومره نه لکه له پېغوره چې وېرېږي، که یوه لور ته د خدای امر وي او بل لور ته د خلکو پېغور، نو زیات امکان د دې وي، چې دی د خدای امر مات کړي او له پېغوره ځان وژغوري.» ( ۳/ ۱۵۶)

د دُراني صیب دا خبره تر ډېره بریده سمه هم ده، ځکه په پښتنو کې چې څوک چاته پېغور ورکړي، نو دا په دې معنا شوه چې د مقابل لوري بدي یې واخیسته، ژر وي که پس ښایي د دې بدي بدل ترې واخلي. زموږ او ستاسو د موضوع اتل ارواښاد امیر حمزه شینواری هم په لاندې بیت کې تر ډېر بریده کوښښ کوي، چې خپله سپېڅلې مینه د خلکو د پېغور له سره وجار باسي او پښتونولۍ ته وګوري:

زړګیه جاروتل دې هم خلاف دي د پښتو
الفــت کې د ملګریو که پېغور ته وګورم
(۸/ ۱۴۳)

## بدل

بدل اخیستل هم د پښتونولۍ یو ډېر مهم توکی دی، له یوه پښتانه سره چې په یوه یا بله توګه کله څه بد یا زیاتی وشي، نو دی د هغه بدل په هر حال کې اخلي، د دغسې بدو یا زیاتوب تر ټولو درونډ شکل وژنه ده، کله چې د یو چا له لاسه یو پښتون ووژل شي، د دغه وژل شوي کس نیږدې خپلوان به هر څنګه چې وي، د وژونکي د ژوند اخیستو پوره پوره وس کوي او وژني به یې، که یې نن لاس ونه رسېږي او ویې نه وژلای شي، نو هم بدل پاتېږي نه، د کسات جذبه د دغسې چا په زړه کې لکه اغزی پاته وي، که پلار په خپل ژوند کې دغه کار ونه کړای شي، نو د ده له مړینې وروسته به یې د ده زوی کوي، که یې زوی هم پاته راشي، نو بیا به لمسي ته پاتېږي. دا رنګه که زمانې ورباندې واوړي، بیا هم دغه کشاله تر هغو ژوندۍ پاته وي، چې یا بدل وانه خستل شي، یا له دوده سره سم د جرګو او مرکو له لارې په یوه یا بله توګه د تاوان په راکړه ورکړه د دواړو کورنیو ترمنځ روغه ونه شي. (۳/ ۱۸۷)

حمزه بابا د خپل غزل په لاندې بیت کې د پښتنو همدغه خوی ته نغوته کوي او وایي چې زما د عشق له برکته زما دوښمن او رقیب هم سلامت ګرځي، که نه وي پښتون خو په هیڅ وخت کې خپل بدل نه دی پرېښي:

عشقـــه دا ته یې چې رقیب مې سلامت ګرځي
ګني کېدی شي چې پښتون چېرې بدل پرېښود
( ۸/ ۱۱۳)

## پښتني دودونه

### حجره

حجره هغه ځاى ته ويل کېږي چې پښتانه يې د خپلې کلا نه دباندې د مېلمنو او يا د کور د نورو نارينه غړو د ناستې پاستې له پاره جوړوي؛ حمزه بابا يې په اړه فرمايي:

حجـــره د زړونو بويه چې پراخه پښتانه کا
بيا ځاى دې پکې پسته د حالاتو مېلمانه کا
(۸/ ۹۱)

په ځينو ځايونو کې د طالبانو هغه د ناستې پاستې ځاى ته چې د جومات نه بهر وي، هم حجره ويل کېږي. خو په عامه توگه په پښتنو کې حجره د مېلمه او مجلس له پاره خاص ځاى دى، په حجره کې د کار او روزگار له پاره تصميمونه نيول کېږي، د خانانو په حجره کې د ټنگ ټکور مجلسونه هم جوړېږي.

له بلې خوا حجره له هر ډول تيري څخه مصؤنه ده، که يو ډېر غټ مجرم او قاتل هم د چا حجرې ته راشي، مدعيان يې په حجره کې کار نه شي پرې درلودلاى، که د حجرې د خاوند د زوى او يا ورور قاتل هم حجرې ته ورننوځي، نو مصؤن دى. او تر هغه وخته پورې چې دلته وي څوک څه نه ورته وايي. ( ٦/ ۱۰٦)

نو ځکه اروابښاد حمزه بابا وايي:

اې اشنا زړه که ته حرم شې هم مجرم دې يم
فکـــر کې زما چې ته حجره د پښتانه راځې ( ۱/ ۱۵)

### مېلمه پالنه

مېلمه پالنه او مېلمستيا د نړۍ په ټولو قومونو او وگړو کې په يو ډول نه يو ډول ترسره کېږي، دا يو دود او دستور دى، مگر دغه دود او دستور په هر قوم او ملت کې په بېلابېلو طريقو سره پالل کېږي، پښتانه هم په نړۍ کې د يوه مېلمه پال قوم په توگه د ځانگړي شهرت قاموس لري او دغه دود د پښتني ولس يو ډېر زوړ، لرغونى او منل شوى رواج گڼل کېږي. ( ۱/ ۱٦)

پښتانه چې کله خپل استوگنځي (مېنه، کلا) جوړوي، نو له هر څه د مخه د مېلمه لپاره يو ځانگړى ځاى په گوته او جلا کوي چې مخکې مو پرې خبرې وکړې. دغه ځاى بيا چې کله جوړ شي، نو په هر حالت کې که يې خاوند سرمايه داره وي او که غريب، د مېلمنو پرمخ يې بايد دروازه خلاصه وي. حمزه بابا وايي:

لا د زړه حجره کې مې پښتو کوربنه ښکاري
وي که تنگدستي هم مېلمنو ته خوشحالېږي
(۱/ ۱۷)

د هر پښتون مېړه کره چې مېلمه راشي، نو د هغه د هر کلي او درنښت له پاره ځانگړي مراتب تر سره کوي. که څوک د مېلمه په راتگ تندی بوت او غوټه ونیسي، نو د مېلمه د خپگان لامل گرځي او د مېلمه هېڅکله دغه ناوړه صحنه نه هېرېږي او تل يې په ذهن کې انځور وي، د حمزه بابا هم همداسې يوه ناوړه او بده صحنه د خپل مخاطب چې تندی يې مېلمه ته په کې بوت او غوټه نیولی دی د ژوند تر پايه پورې نه هېرېږي او ورته وايي:

تا چې نن مېلمه ته بوت تندی پښتنې ونيوه
څو چې زه ژوندی يم نو به څه راته را يادېږي
(۱/ ۲۱)

پښتانه چې کله مېلمه رخصتوي هم، نو د احترام او درناوي له پاره يې يو ډول ځانگړي مراتب ورته تر سره کوي، هغه داسې چې د مېلمه د لا ښه درناوي په خاطر تر يوه ټاکلي ځايه ورسره ځي او که چېرته يې دا په توان او وس کې نه وي، نو د خپل کور تر دروازې خو ضرور ورسره ځي. حمزه بابا د خپل غزل په لاندې بيت کې همدا موضوع رانغاړي:

په پښتو دې شوم شکمن د يار نظره
چې څه مېنځ د مېلمنو سره لاړ نه شوې
(۱/ ۲۴)

او يا:

بې جلبه بېرته ستنبدل هم څه پښتو نه ده ستون شو د مېلمه نه د درشل سره دوه گامه پس
(۸/ ۱۲۷)

## تیره اېښودل

تېره اېښودل د پښتنو يو پخوانی رسم دی، د جنگ بندۍ دغه تېره پر يوه خاص او څرگند ځای باندې اېښودل کېږي، تر څو چې دغه تېره پرته وي او خلک يې ويني، نو دواړې ډلې ډاډه وي چې جنگ بند دی. په پراخه پېښه گرځي راگرځي. په دغه دوران کې منځگړي هڅه کوي چې دغه لنډه مهاله سوله په روغه بدله کړي. (۳/ ۲۰۰)

حمزه بابا هم د خپل رقیب سره د جګړې نه کولو تیره ایښې ده، خو کله کله چې پر دې سربېره هم د ده محبوب ته ګوري، نو د تیرې د بېرته ماتولو وسوسې یې زړه تـه لاره کـوي. لانـدې دوه بیتونـه یـې د همداسې یوې منظرې نندارې وړاندې کوي:

اخــر به تیره کړې زما او د رقیب ماته
ته ورسره چې کله کله جنګوې سترګې
(۱/ ۵۱)

او یا:

زمــا او د رقیب خو به خود تیره ماتېدله
اشنا چې داسې تا ورسره سترګې جنګولې
(۱/ ۵۱)

**روغه**

روغه د پتنې دائمي پرېکون ته وایي او څه وخت چې دوه مقابل لوري په خپل منځ کې روغه کوي، نو د تول او قضاوت له پاره اهل او د دې قضاوت وړ کسان راغوښتل کېږي.
د تول او نرخ له پاره په پښتنو قبیلو کې معلومې او ښکارندویه کورنۍ دي او دا یوازې د هغـوی حـق وي، چې داسې کشالې اوارې او د پرې وړې حکم وکاندي، دواړو خواوو چې په یو بل باندې څه اوښتي وي، نو هغه په دغه ورځ د حساب لاندې راځي. ( ۱۱ / ۳۵)
د روغې په اړه د پښتو غزل بابا اروابښاد امیر حمزه شینواری وایي:

راشــــــه مروره چې بیا روغه سره وکړو
نن ښه ده له دې چې سبا روغه سره وکړو
(۸/ ۱۹٦)

او یا:

برند کتل د تا و اسوېلي د حمزه ښکلیه
څه چې د بلا او بلا روغه سره وکړو
(۱۰/ ۱۷۷)

د روغې له پاره د پښتنو په دود کې نر او ښځه، ووړ او لوی سپین ږیری او ځوان یو د بـل سره عـوض کېږي او دا عوض دا درې طریقې دي.

**اول ـ نېکه**

د مړي یا تور په عوض د روپو یو معین حد دی، چې د مجرم طرف له خوا ورکول کېږي، مګر دا یاد لرل په کار دي، چې نېکه د روغې مظبوطه او د ښځمې طریقه نه ده، ځوک چې دا قسم روغه وکاندي، نو د هغه خوا او ډډه سرېدای نه شي، نو لکه د پخوا په شان به خپل ځان ساتي.

**دویم ـ سوَرَه**

د خور او لور هغې ورکړې ته وایي، چې د مړي په عوض وشي، په دې خېښې کې د هغو شرایطو چې موږ مخکې ذکر کړل، د په ځای کولو لزوم او ضرورت نشته.

حمزه بابا د روغې د دې قسم په اړه وایي:

تور چې پښتون شي نو سپرې ورکوي
واخــــــله لېمې چې مې نظر تېروت
(۸/ ۱۰۳)

**درېیم ـ کشونده**

دا د روغې درېیمه طریقه ده، په دې ترتیب چې د قاتل پره یو سړی خپل مقابل لوري ته په ګوته کړي، چې دا ستاسو د (...) وژونکی دی.

د کشونده دا حکم دی، چې له خپلې سیمې څخه به سمدستي وځي او بیا به هیڅکله هم خپل کاله یا کلي ته نه راځي. ( ۱۱ / ۳۵، ۳٦)

**جرګه**

جرګه د پښتني ولسونو ډېر لرغونی دود او دستور دی، چې د پېړیو په اوږدو کې له نیکونو راپاتې یو دودیز میراث دی، له لرغونو اریایانو رانیولې تر نن زمانې را رسېدلی، په پښتني چاپېریال کې اوس هم ډېر مسایل او موضوعات د جرګې له لارې حلېږي. خلک ورته ډېر خوښمن او خوشبین وي، ځکه ډېرې ښې پایلې د ځان سره لري، جرګه لومړی د شکېلو غاړو پوره واک او اختیار اخلي بیا خپله پرېکړه اعلانوي. (۱/ ۵۱)

جرګه په افغاني دودونو او عنعنو کې ډېر لرغونی تاریخ لري. د څېړنو له مخې لرغونو اریایانو هم دوه ډوله جرګې درلودې، چې ورپېښې لویې او کوچینۍ مسئلې به یې د همدغو جرګو له مخې حل کولې. دوی د سمتي او سبها په نوم دوه جرګې درلودې، چې سبها د یوې وړې کلیوالې جرګې دنده درلوده، چې په کوچینیو مسایلو به یې غور او پرېکړې کولې.

سمتي جرګې به لويې مسلې حل کولې. لکه د مشر ټاکل، له خپلې سيمې څخه دفاع کول او داسې نورې مسئلې. بيا په راوروسته وختونو کې چې کله هېواد د لويو ستونزو سره مخامخ شوی ؤ، د همدغو جرګو له لارې يې همدغو ستونزو ته لاره اواره کړې ده... لکه د ميرويس خان نيکه او احمدشاه ابدالي په وختونو کې د مشر ټاکل او د هېواد ساتنې په اړه جوړې شوې جرګې او تر هغې وروسته د يو شمېر واکمنو د واکمنيو پر مهال لويې جرګې جوړې شوې دي. (۷/ ۱۰۳، ۱۰۴)

زموږ او تاسې د موضوع اتل او د پښتو غزل بابا امير حمزه شينواري هم د جرګې او مرکې په اړه ډېرې څرګندونې کړې دي. هغه نه يوازې د جرګې او مرکې يادونه په خپلو غزلونو کې کړې ده، بلکې په پښتني ټولنه کې يې د لانجو د حل او روغې جوړې له پاره د جرګې او مرکې ارزښت هم په خورا ښکلي انداز سره په ګوته کړی دی.

ستا د برندو سترګو يو علاج او هغه دا دی
پنده به په تا د پښتنو اوښکو جرګه کړم
(۸/ ۱۴۸)

او يا:

واستـــولې ما درته جرګې چې نه راتلې
بل علاج مې څه و پښتنې چې نه راتلې
( ۱۰/ ۱۷۸)

خو کله چې بيا د ده دا محبوب د ده جرګه نه مني او له نيمې لارې يې بېرته راستنوي، نو بيا يې حتی د پښتني احساس د قلمرو نه هم وباسي او ځان ته په دې ډاډ ورکوي چې:

حمــــزه د پښتني احساس ګيله له ښکليو مه کړه
اشنا دې چې په سوال او په زارۍ نه په جرګه شو
(۸/ ۲۱۲)

په جرګه، مرکه او ننواتې کې تر ډېره بريده د قام سپين ږيري، ملايان او يا نورو مشران ګډون کوي، دا ځکه چې په پښتنو کې د دغه ډلو خلکو ډېر احترام او درناوی کېږي،نو په همدې خاطر په جرګه کې د دې ډلې خلکو ګډون لازمي او ضروري دی، تر څو چې مقابل لوری چې جرګه پرې شوې، د دغه شخصيتونو د احترام او درناوي په خاطر د بل مقابل لوري سره روغه وکړي. نو ځکه حمزه بابا فرمايي:

جمع کوم به پخواني يادونه
ورله جرګه زاړه زاړه راولم ( ۸/ ۱۵۹)

## ننواتې

ننواتې د افغانانو یو منلی دود دی، چې د یوې گناه د بښلو له پاره د جانب مقابل لوري کور ته ورتللو ته وایي. کله چې د دوو قبیلو او یا کورنیو تر منځ یوه شخړه پېښه شي، د دې شخړې د پای ته رسېدو او له منځه وړلو په خاطر د مقابل لوري عذر کوي او عفوه غواړي او دا عذر معمولاً په دې بڼه تر سره کېږي.

لومړی دا چې ملا او سپین ږیرې د مقابل لوري کور ته د عذر له پاره استوي، تر څو یې عذر ومنل شي.

دویمه بڼه یې دا ده، چې ښځمنې یې کور ته استوي او پسونه یې د کور په وره کې حلالوي.

دریېم دا چې په خپله مجرم پړی په غاړه واښه په خوله د جانب مقابل کور ته ورځي او عذر ترې غواړي او د راتلونکې بدۍ د ختمېدلو هیله کوي. (۷/ ۱۰۹)

حمزه بابا د خپلو غزلونو په ډېرو بیتونو کې د افغانانو دا دې ننواتې دود ته نغوته کړې ده، خو دا نغوته یې په وچو الفاظو سره نه ده بیان کړې، بلکې د خپل محبوب سره یې د مینې یوه خوندوره تابلو ترې جوړه کړې ده. داسې چې له یوې مخې د افغانانو د دې دود په اړه معلومات ترې ترلاسه کېږي او له بلې خوا ترې د حمزه بابا او د ده د محبوب د مینې د سوز او گداز ننداره په لوستونکي کوي.

برند بانه دې جوړې تېټ کړل زما سترگو
احتـــــــــــرام د ننواتې پښتانه کا
(۸/ ۹۱)

کړم به ننواتې اوس د عشق په ډکو سترگو
تش مې چې کړو عقله ستا له جیبه لاس
(۸/ ۱۲۶)

چې د سرو اوښکو جرگه راسره نشته
ننـــــــــواتې د تاثیر کولای نه شم
(۸/ ۱۵۵)

## بدرگه

بدرگه د پښتنو یو پخوانی دود دی، چې یو سړی یا د غلو له وېرې یا د دښمن له ترسه او یا د برمتې له ډاره خپل اشنا ځان سره روان کړي او یا په اجوره باندې یو سړی د ځان سره واخلي، نو دا د پښتانه

لار ده چې هیڅوک به پرې غرض نه لري او که چا ورته لاس واچاوه، نو ټول تاوان په هغه سرې دی، چا چې بدرگه کړې ده.

د پښتنو په دود کې بدرگه ماتول او په بدرگه ورختل ډېره عیبجنه خبره ده او ډېره سخته جزا لري، که چېرې په داسې مواردو کې مرگ ژوبله وشي، نو د کلي ولس خلک یې کور سېځي او مال یې تالا کوي. (۱۱/ ۳۹)

د بدرگې په اړه دا ډول ډېرې په زړه پورې خبرې د پښتو غزل د بابا اروانښاد امیر حمزه شینواري په شعرونو کې هم وینو، خو بیا هم لکه څرنگه چې پورته مو د پښتنو د کلتور ډېر اړخونه د ده په غزلونو کې د مینې سره اخښلي ولوستل، د بدرگې د دود تابلو هم ده د خپلې مینې سره اخښلې د لوستونکو ننداري ته ایښې ده، چې په دې ډول سره یې هم د غزل تقاضا ته ځواب ویلی دی او هم یې په کې د خپل ارزښتمن کلتور دروند بار د غزل په نازکو اوږو لېږدولی دی.

هغـــــه لوظونه ناپوره راسره
د ښکلي یار د بدرگو سره ځم
(۱/ ۷۵)

او یا:

منـــــزل ته د تکمیل به د تا حسن ورسېږي
د ژوند د چول تر پایه درسره یم بدرگه کړم
(۱/ ۷۶)

کله نا کله خو په بدرگې هم باور نه کېږي، ځکه بدرگه کوونکي په خپله غله او شوکمار جوړېږي، حمزه بابا په لاندې بیت کې د همدغې ځانگړې صحنې انځور په څه هنري انداز بیانوي:

کله کله بدرگه هم شي شوکماره
اې د دهر قافلو وېره په کاره ده (۱/ ۷۶)

## پگړۍ او شمله

پگړۍ او د هغې اوږده شمله پرېښودل د پښتنو د دودونو د لړۍ یوه بله ارزښتمنه او درنه کړۍ ده، پښتانه چې کله د خپل قام څوک مشر او رهبر هم کوي، نو په گډه په یوه لویه اجتماع کې د هغه پر سر یوه پگړۍ ږدي، دا دغه معنا لري چې دغه شخصیت زموږ عامه تامه هر ډول استازولي کولای شي، مشر-هم بیا د پگړۍ احترام کوي او له قام سره خیانت نه کوي او قام هم د ده د هر ډول پرېکړې احترام او درناوی کوي. دا چې دغه د پگړۍ وړ شخص باید کومې ښېگڼې او وړتیاوې ولري، په دې اړه د پښتنو د

لوی مشر حضرت خوشحال خان خټک په «دستارنامه» نومي کتاب کې چې په پښتنو کې د پګړۍ او شملې ارزښت ترې په خورا ښه توګه کېدای شي، تاسې ښاغلي لوستونکي لوستلای شئ.

موږ به اوس راشو خپلې موضوع ته چې هغه د ارواښاد امیر حمزه شینواري په غزل کې د پګړۍ او شملې د ذکر سپړنه او څېړنه ده، حمزه بابا هم په خپل پښتون غزل کې د پښتنو دغه دود ته په خورا ښه اندازه سره نغوته کړې ده، لاندې بیت یې د بېلګې په توګه لولو:

اوس دې شمله راته ښکاره شي د غیرت جاروګۍ
پښتونه ننګ چې درنه پاتې شو پګړۍ مه وهه
(۱/ ۴۰)

حمزه بابا په دې بیت کې د یوه پښتون مېړه له پاره د ننګ او غیرت درلودل، چې موږ هم د مقالې په لومړیو کې پرې رڼا واچوله، د پګړۍ له پاره ضروري او لازمي ګڼلي دي، یعنې د ده  په نظر که چېرته کوم پښتون په دې صفت سره موصوف نه وي، نو نه ښایي ورته چې پګړۍ وتړي.

په لاندې بیت کې بیا بابا د سوال او پوښتنې په بڼه هغه سرکوزو پښتنو ته د خپلې درنې پګړۍ عظمت او لويي وریادوي، چې د خپلو شخصي ګټو او موخو له پاره یې خپلې پګړۍ د نورو په پښو کې خاورې کړې دي.

دا سر کوزي پښتونه عشقه ولې
ستا د زلو هغه پګړۍ څه شوې (۱/ ۳۹)

پګړۍ ته په دري ژبه کې دستار وایي، حمزه بابا هم په خپلو ځینو بیتونو کې د دستار کلمه راوړې ده، خو مراد یې ترې پګړۍ ده، پښتني ولسونه باید هېڅ وخت د چا په دستار (پګړۍ) تېر نه وځي، بلکې لومړی دې د هغه چا په تېر وخت نظر واچوي، هغه دې وپلټي بیا دې ورسره دوستانه ټینګه کړي او په کړنو یې دې بیا باور وکړي، حمزه بابا د دې له پاره چې د باور کولو یو مثال وښيي، یو ډول تمثیل کوي چې د ده ولس ترې درس واخلي، څه ښه وایي:

ښــــکاري په دستار د حمزه تېروتې لالیه
ګوره چې یې بار د خطاګانو په سر نه وي
(۱/ ۴۰، ۴۱)

**مناقشه**

په پښتو ادبیاتو کې که څه هم غزل لیکل له حمزه بابا نه وړاندې ډېره مخینه لري او په دې ډګر کې ډېرو شاعرانو خپل قلمي ځواک آزمویلی دی؛ خو هغه څه چې په پښتو ادبیاتو کې یې حمزه بابا او غزل

لازم او ملزم سره وګرځول او حمزه بابا ته پرې د پښتو غزل د بابا لقب ورکړل شو، تر ډېره بریده دا کېدلای شي، چې حمزه بابا غزل د پښتنو په روح او روان باندې برابر کړ، د غزل پر نازکو او باریکو اوږو یې د پښتو او پښتونوالې د درانه کلتور د لېږدولو هڅه وکړه، په دې اساس که د ده غزل په یوه بله ژبه و هم ژباړل شي، نو د پښتنو د خوی او خصلت ځرکونه به په کې له ورایه سترګکونه ووهي.

لکه څرنګه مو چې وړاندې په دې مقاله کې د ده د غزلونو داسې ډېر په زړه پورې او خوندور بیتونه ولوستل، چې په کې په اوسني وخت کې د پښتنو د کلتور له ډېرو تتو او ناڅرګندو اړخونو څخه پرده پورته شوې وه، داسې ډېر نور بیتونه یې لا په دې لار کې د څېړنو او سپړنو لارې څاري، خو د څېړونکو او سپړونکو ورته لا تر اوسه پورې پام هم نه دی. نو بویه چې په دې ډګر کې هم هر څېړونکی خپل قلمي ځواک و آزمویي.

## پایله

د پایلې په توګه په ډېر وسوق سره ویلای شو، چې په پښتو ادبیاتو کې د نورو شاعرانو په پرتله د امیرحمزه شینواري غزل د پښتنو د کلتور تر ټولو راڼه هېنداره ګڼل کېدای شي. هغه نه یوازې پر غزل د خپل عشق او محبوب د حسن ترجمانی وکړه، بلکې د پښتنو او افغانانو د بډایه او شتمن کلتور، د تېرو او هېرو اړخونو څرګندونه یې هم په کې وکړه، چې له دې مخې یې غزل د هر لوستونکی او مینه وال فکر او احساس دواړو ته مخاطب ګڼل کېږي. یعنې که له یوې خوا یې د غزل په دې هېنداره کې هر مین د خپل محبوب مخ ویني، نو له بلې خوا په کې هر په پښتو او پښتونواله مین د خپل کلتور تېر او هېر یادونه هم راتازه کوي.

## اخځلیکونه


۱. اغېز، عبیدالله. (۱۳۹۳). **د حمزه په غزل کې پښتني عناصر**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲. بهاند، لطیف. (۲۰۱۵). **کلتورپوهنه**. لاهور: پښتو ادبي غورځنګ.

۳. دُرانی، درویش. (۲۰۱۴). **د پښتني ژوند کړه وړه**. کراچی: زم زم پریس.

۴. رښتین، صدیق الله. (۲۰۱۰). **پښتني لاربنود**. دویم چاپ. پېښور: یونیورسیټي بُک ایجینسي.

۵. زېور، زېورالدین.(۱۳۸۹). **د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنی دوره**. دویم چاپ. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

٦. ژړک، محمد صادق. (۲۰۱۷). **پښتونواله**. کوټه: پښتو نړیواله مرکه.

۷. سلطاني، شهباز خېل. (۱۳۹۵). **د افغانستان د کلتور تاریخ**. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

۸. شینواری، امیر حمزه. ( ۱۳۹۲). **غزلې**. د محمد آصف صمیم، سریزه، څېړنه او وییپانګه. دویم چاپ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۹. شینواری، حمزه. (۱۹۸٦). **سپرلی په آېینه کښې**. د دادمحمد دلسوز په اهتمام. پېښور: جدون پریس.

۱۰. غزنوي، خاطر.(۱۳۸۸). **حمزه پېژندنه**. د ذبیح الله احساس ژباړه. مزارشریف: سالنګ خپرندویه ټولنه.

۱۱. ننګرهاری، محمد ګلاب، واسعي، عبدالخالق، ثابت، محمد ابراهیم او اتمان، محمد عالم. (۱۳۹۱). **پښتني دودونه**. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.